PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۵۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۵۵ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۳۰ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرګولي ۱۴ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رجب ۳ مه د ۲۰۱۱ د جون ۴ مه

درې بهرني سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشري ایساف ځواکونو په هېواد کې د خپلو درېیو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

د ایساف ځواکونو له خوا د غبرګولي پر ۱۳ مه، په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې یو سرتېری یې د افغانستان په شمال کې د سړک غاړې ماین په چاودنه او بل یې د هېواد په ختیځ کې له وسلوالو مخالفینو سره په نښته کې وژل شوی دی.

دغه راز د یادو ځواکونو د یوې بلې خبرپاڼې **۳مخ**

ایا له افغانستان سره به د هند پوځي مرستې سیمه ییز حساسیتونه را ونه پاروي؟



په افغانستان کې ځینو کتونکي په دې باور دي، چې له هېواد سره به یې د هند پوځي مرستې په سیمه ییزه کچه ځینې حساسیتونه راوپاروي.

کتونکو دا اندېښنه وروسته له هغې څرګنده کړه، چې د هېواد د دفاع وزیر جنرال عبدالرحیم وردګ هند ته د خپل سفر پر مهال، له دغه هېواده د افغان ځواکونو د روزلو په برخه کې د مرستې غوښتنه وکړه.

خو د پوځي چارو کتونکی جنرال امرالله امان وایي، چې د هند پوځي مرستې به د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه د پاکستان لپاره د زغملو وړ نه وي.

د هند له خوا په پوځي برخه کې د مرستو د ژمنې اعلان له هغه وروسته کېږي، چې تر دې مخکې د هندوستان صدراعظم کابل ته په خپل سفر کې له افغانستان سره د ستراتیژیکو همکارو د سند د لاسلیکولو خبره کړې وه.

بلخوا د افغانستان د دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهرعظیمي وایي، چې د پاکستان او افغانستان لوی درستیزان په درېیو میاشتو کې یو ځل د امنیتي حالت په اړه غونډه کوي، خو اوس چې افغانستان غواړي له هند سره اړیکې ولري، دغه مسئله به بل هېواد ته د زیان رسولو په معنا نه وي: (د دفاع د وزیر سفر د سیمې د امنیتي همکاریو

۳مخ

نخستین رقیب انتخاباتی اوباما مشخص شد

میت رومنی یک تاجرامریکایی فرماندارسابق ایالت ماساچوست روز پنجشنبه گذشته بطور علنی نامزدی خود را برای شرکت در انتخابات درون حزبی جمهوریخواهان برای رقابت با بارک اوباما در انتخابات آیندۀ ریاست جمهوری امریکا در سال ۲۰۱۲ میلادی اعلام کرد.

به گزارش خبرگزاری رویترز از شهر استراتهام در ایالت نیو هامشهر، رومنی هنگام اعلام نامزدی خود برای ریاست جمهوری با تکیه بر مهارتهای تجاری خود نحوۀ رهبری اقتصاد امریکا توسط بارک اوباما را بشدت مورد حمله قرار داد.

وی در رقابت بر سر نامزدی انتخابات سال ۲۰۰۸ از جان مک کین، نامزد جمهوریخواهان شکست خورده بود و این بار نیز باب رقابت کماکان باز است.

رومنی، خطاب به گروهی از هوادارانش که در مزرعه یی در نیوهامشهر یک ایالت مهم و تعیین کننده در فرآیند نامزدی انتخابات گرد آمده و پرچم



امریکا را تکان می دادند، گفت: " من میت رومنی هستم. من به امریکا ایمان و اعتقاد دارم و می خواهم نامزد ریاست جمهوری امریکا شوم".

وی، ضمن حمله به اوباما به دلیل دنبال کردن شیوه اقتصاد اروپایی و دخالت زیاد دولت در برخورد با مشکلات اقتصادی قول داد که هزینه دولت فدرال را در حد ۲۰ درصد یا کمتر از درآمد ناخالص داخلی نگهدارد.

ص۳



په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزونې

۲

پاکستان هیچ گونه عملیات مشترکی با امریکا یا ناتو نخواهد داشت

فرمانده اردوی ایالت پشتونخواه ضمن رد هرگونه عملیات مشترک با نیروهای امریکایی یا ناتو، تصریح کرد که ارتش پاکستان در صورت لزوم خود تصمیم به انجام عملیات نظامی در وزیرستان خواهد گرفت.

به گزارش خبرگزاری فارس در مهمند، جنرال " آصف یاسین ملک " فرمانده اردوی پشاور به رسانه‌ها گفت: تا زمانیکه ارتش پاکستان احساس نیاز نکند، به درخواست هیچ کشوری اقدام به انجام عملیات نظامی در " وزیرستان شمالی " نخواهد کرد.

وی در جلسه توجیهی با اعضای رسانه‌ها با حضور فرمانده " اطهر عباس " مدیر عمومی روابط نیروهای مسلح و دیگر مقام های عالی رتبه نظامی پاکستان، ضمن تأکید بر اینکه عملیات نظامی تحت فشار و تلقین هیچ قدرتی در جهان صورت نخواهد گرفت، گفت که این عملیات تنها با هدف بازگرداندن صلح و پاکسازی **ص۳**

موانع تطبیق موافقتنامۀ ترانزیت میان افغانستان و پاکستان رفع شد

وزارت تجارت و صنایع افغانستان در ختم اجلاس دو روزه با هیات وزارت تجارت پاکستان اعلام کرد که مشکلات

تخنیکی که در قرارداد جدید تجارت و ترانزیت افغانستان و پاکستان وجود داشت اکنون از میان برداشته شده است.

انورالحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان در یک کنفرانس خبری مشترک با هیات وزارت تجارت پاکستان در کابل گفت، به اساس تفاهمات تازه اکنون لاری های افغانستان که اموال تجارتی را انتقال می دهند حق رفت و آمد به همه بنادر تجارتی پاکستان را دارند.

آقای احدی در رابطه به برخی تفاهماتی که به تازه گی با وزارت تجارت پاکستان کرده است چنین گفت: " بلاخره موافقه به این شده که ما یک نوع بیمه را برای اموال تجارتی خود بدست می آوریم و برای آنها قابل قبول شد و این خود یک معمول بین المللی هم می باشد و مشکل به وجود آمده حل شد و مشکل دوم ما در قسمت لاری ها بود که روی آن نیز بحث شد".

موافقتنامۀ جدید تجارتی و ترانزیتی افغانستان و پاکستان سال گذشته به امضا رسید اما با وجود نهایی شدن، تا کنون این موافقتنامه به مرحلۀ اجرا گذاشته نشده است. وزارت تجارت افغانستان می گوید، قرار است به تاریخ دوازدهم ماه جون عملاً این قرارداد تطبیق گردد.

در عین حال ظفر محمود معین وزارت تجارت پاکستان که در راس یک هیات پاکستانی وارد کابل گردیده بود، گفت، این یک آغاز خوب در عرصه تجارت میان افغانستان و پاکستان و همچنان در منطقه است.

او ابراز امیداری کرد که تفاهمات تازه باعث از بین رفتن مشکلاتی شود که در عرصه ترانزیت و تجارت میان افغانستان و پاکستان وجود داشت.

معین وزارت تجارت پاکستان به ادامه گفت: " این یک آغاز خوب است، این آغاز ارتباطاتی است **ص۳**

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

په افغانستان کې د سولې نوې هڅې او پر وړاندې يې خنډونه

د افغان جګړې نړدې لس کاله وشول، چې لا هم خلاصون نه لري او ان ورځ په ورځ د پېچلتيا او سختوالي په لور قدم اخلي. د دې جګړې د پای ته رسولو لپاره له هماغو لومړيو وختونو راهيسې هڅې روانې دي، خو دا هڅې د بېلابېلو عواملو له امله کله سستې او کله هم چټکې شوي دي. امريکا او ناټو ځواکونو هم اصلاً نه غوښتل چې افغان جګړه دې سرحد ته ورسېږي، هغوی دې جګړې ته د يوې ساده جګړې په سترګه کتلي وو، خو کله چې د عمل ميدان ته ووتل، ورمعلومه شوه، چې دا جګړه ډېر اړخونه لري او د ډېر نور هم په کې د خپلو ګټو په خاطر پراخه لاسوهنه کوي، نو ورو ورو يې د دې جګړې د پای ته رسولو او راټولولو لپاره هڅې پيل کړې. دا هڅې په دې وروستيو ځو کلونو کې بېخي چټکې شوي او په خپله بهرنيان هم په دې راز پوهېدلي، چې په وچ زور سره دا جګړه نه شي ګټلی، او تر هغو چې له ډيپلوماتيکو لارو دې جګړې ته د پای ټکی کښېږدي، همداسې به دوام لري او همداسې به پېچلې کېږي. خو د دې لپاره چې هم بهرنيان دا جګړه د ځان په ګټه پای ته ورسوي او هم د له ډېرو ورانيو او در به درې مخنيوی وشي، نو يې په دې وروستيو کې په يو لړ ډيپلوماتيکو لارو چارو لاس پورې کړی، د هغې له جملې نه د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن وژل يې غوره بهلګه ګڼلی شو. همداشان بل څه چې مهم دي، هغه دا چې واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې د بنديزونو له لېسته د طالبانو د پخوانيو چارواکو د نومونو د ايستلو لپاره د امريکا او برېتانيا د هلوځلو خبر ورکړی دی. د دې ورځپاڼې له مخې له تور لېسته د طالبانو د نومونو ايستل، د وسلوالو طالبانو يوه کليدي غوښتنه ده. په همدې حال کې دې ورځپاڼې د باوري سرچينو په قول کابل ته د جلال الدين حقاني شبکې د استازو د سفر راپور ورکړی دی. برېتانيا او د امريکا متحدايالتونه هڅه کوي چې د رواني مياشتې تر پايه د اتلس پخوانيو جګپوړو طالبانو پرشد بنديزونه لرې شي. د ګارډين ورځپاڼې د راپور له مخې دا له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره د لوړديځوالو د چمتوکېدو تر ټولو قوي نښه ده. په هغو کسانو کې چې امريکا او بريتانيا غواړي د ملګروملتو د بنديزونو له لېسته يې نومونه وايستل شي، د طالبانو د واکمنۍ په موده کې د امر بالمعروف د اداري مشر محمد قلم الدين هم شامل دی. مقامات باور لري چې دا کار به وسلوالو مخالفانو ته له جګړې څخه د لاس اخيستلو په شرط د افغانستان په ټولنه کې د بيا يوځای کېدو څرګند پيغام ورکړي. پر طالبانو دا بنديزونه پر ۱۹۹۹ کال ولګول شول چې دوی واک په لاس کې درلود. د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د يوولسمې نېټې له حملو وروسته ملګروملتو دا بنديزونه تمديد کړل. د دغو تحريمونو پراساس د طالبانو د ۱۴۰ غړيو سفر منع او بانکي حسابونه بند شوي دي. د طالبانو يوه اساسي غوښتنه دا ده چې د دوی پر مقاماتو دې بنديزونه پای ته ورسېږي او همدا شان بله مهمه غوښتنه يې داده، چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي، چې په دې برخه کې هم ځينې هلې ځلې پيل شوې او ټاکل شوې چې د امريکا ولسمشر بارک اوباما په افغانستان کې د خپلو پوځيانو شمېر له خپل مخکښې اعلان سره سم کم کړي او په زرګونو سرتېري له دې هېواده وباسي او په دې توګه ورو ورو د خپلو پوځيانو د وتلو لړۍ پيل کړي. دا ټول هغه څه دي، چې د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره زمينه برابروي. خو دا ايا افغان پوځونه به د بهرنيو پوځونو تر وتلو وروسته د هېواد امنيت ټينګ کړی شي او که نه او ايا د بهرنيانو په وتلو سره به د افغان دولت پر وړاندې د وسلوالو مخالف غلی شي؟ ايا د بهرنيانو تر وتلو وروسته به په خپله امريکا، غربي هېوادونه همداسې له افغانستان سره خپلې مرستې جاري وساتي او ايا د سيمې هېوادونه به د خپل نفوذ لپاره لاسوهنې لاپسې ګړندۍ نه کړي؟ دا او دې ته ورته هغه پوښتنې دي، چې پر وخت او کره او رښتونې ځواب ته اړتيا لري.

په افغانستان کې د امريکا دايمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزوڼې

شېرمه برخه:

قاضی محمد حسن حقیار

جوبايډن: د منځنۍ پېړۍ اړوند افغانستان ابادولو ته نه يو راغلي

امريکا په ځانګړې توګه او نړيوال په عامه توګه د افغانستان ابادولو ته هېڅ ژمن ندي په افغانستان کې د بهرنيو وسلوال شتون لس کلن شو خو تراوسه يې د افغانستان د بيارغونې او ابادولو لپاره لس ګامه هم نه دي پورته کړي چې بهرنيانو د افغانستان رغول او ابادول غوښتل نو دا کافي وخت دی، چې وروسته پاتې او د سيالانو له کتاره وروسته پاتې افغانستان پر پښو ودرېږي. امريکا په نظامي برخه کې په افغانستان کې تراوسه له يونيم زرميليارد دو ډېر ډالر ولګول، خو د دې شلمه برخه يې هم د افغانستان درغولو لپاره ونه لګول.

امريکايان پوهېږي، چې اقتصاد بنسټ دی، که افغانانو ته کار او روزګار ومومي شي، که دوی پر خپل راتلونکي ډاډه شي که د نيستۍ له کرښې له تيت ژوند څخه راوايستل شي. آن که د ژوند لومړنيو اسانتياوې هم ورته برابرې شي، نو داکار د ناامنۍ په مخنيوي کې مهم رول لري، خو هغوی سربېره پردې، چې وس يې هم لري او د خپلو موخو لپاره دلته يونيم زرميليونه ډالر هم لګوي خو د افغانستان او افغانانو د ژوند او بهبود لپاره هېڅ هم نه کوي او دا لس کاله افغانان تېرباسي.

د افغانستان درغولو لپاره هغه په نشت شمېر بودیجه هم د خپلو موسسو او ادارو له لارې ېهرته خپلو بانکونو ته لېږدوي او له سلو شل يې هم د افغانانو جېبونو ته نه ځي.

امريکايان دلته روښانه کوي، د افغانانو په ستر ګو کې خاوري شيندي او په اصطلاح په اوبو کې لوټه ږدي او پرې تېرېږي، پې ارتې ګاني يې هغه پروژې، چې له پنځو زرو ډالرو د ډېر لګښت لري نه تطبيقوي، سترې او بنسټيزې پروژې لکه د برېښنا بندونه، د کانونو راوېستل، فابريکې او...، چې افغانانو ته کار ومومي شي او هېواد پر پښو ودرېږي نه جوړوي.

بهرنيان افغان حکومت او د کرزي حکومت بيا بهرنيان پر اداري فساد او درغلۍ تورنوي خو يو يې هم نه مني په داسې حال کې کم ترکمه په دې يوه مورد کې دواړه رښتيا وايي.

د امريکا د ولسمشر مرستيال جوزيف جوبايډن په زغرده وويل، چې دوی د منځنۍ پېړۍ اړوند وروسته پاتې افغانستان د مدني، ديموکراتيزې او رغولو لپاره افغانستان ته نه دي تللي، بلکې په خپل دښمن پسې تللي دي.

مور جوبايډن ته وايو، چې ستاسو دې اظهاراتو ته اړتيا نه شته، که تاسو له دې واقعيت څخه پرده پورته هم نه کړئ افغانان پوهېږي، چې د افغانستان درغولو غم له تاسوسره نشته دی ځکه تاسو په عمل کې ثابته کړې ده (عيان را چه حاجت به بيان)

څو مياشتې وړاندې د دې هېواد کانګرس په دې پلمه افغانستان ته دبودیجې له ورکړې انکار وکړ، چې ګويا دلته مالي رونټيا نه شته، خو افغانان پردوی غږ کوي، چې په دې کې زمور تقصير څه دی، داحکومت که فاسد دی او که مفسد تاسو پر افغانانو تپلی او ستاسو په ملاتړ ژوندی دی. د دې پرځای، چې افغانستان ورغوړئ هره ورځ يې نور هم په خپل بمبارد او جګړو ورانوئ.

دارښتيا ده، چې په افغانستان کې ځو لويې لارې پښې شوې دي، خوهغه هم دومره بې کيفيته او سطحي دي، چې اکثره يې له رسمي پرانيستل کېدو وړاندې ېهرته خراب شوي او کندې په کې جوړې دي.

که د طالبانو حکومت تراوسه وای که څه هم له اقتصادي تعزيراتو سره مخ وو خو باور دی، چې بيا به يې هم دومره سړکونه پاخه کړي وای.

دبن په لس کاله وړانديني کنفرانس کې دوی د نړيوالو په حضور کې د افغانستان درغولو ژمنه هم کړې وه، خو پر خپله ژمنه ونه درېدل نو کله، چې د دوی حضور تر اډو محدود شي او کومه نړيواله ژمنتيا هم ونه لري، نوبيابه يې درغولو لپاره څه ګام واخلي؟

له دې برسېره داسې ناتايید شوي خبرونه هم شته، چې نړيوال ځواکونه په غير فني او غير قانوني توګه په پټه د افغانستان کا نونه وباسي، له هلمند څخه د يورانيمو دغلا موضوع نسبتاً توده ده.

که دوی دلته حضور ولري، نو ناامني ورسره تړلې ده او کله، چې دلته ناامني وي نو پانګوال دلته پانګونې ته زړه نه ښه کوي. همدا اوس وينو، چې له افغانستان څخه دپانګو اوپانګوالو تېښته روانه ده. نو د دې پرځای، چې د دوی حضور مور ته له اقتصادي پلوه ګټوروي لا مو هم زيانمنوي.

دا ايسا (په افغانستان کې دخصوصي پانګوالې ادارې) په وينا، پر ۲۰۰۶ زېږدي کال په هرات کې درې سوه فابريکې فعالي وې، خو اوس يې ايله يو سل او دېرش پاتې دي په دوی کې هم هغه فابريکې، چې ۲۴ ساعته فعاليت کوي له لسو ډېرې نه دي، نورو پانګوالو خپلې پانګې د ناامنۍ، د ډاډ نشتون او نورو لاملونو له مخې بهرته ايستې دي.

په افغانستان کې د امريکا لس کلن حضور وښوده، چې امريکا د افغانستان لپاره نعمت نه، بلکې لعنت او مصيبت ده، له څو تنو ټوپکسالانو او تکنوکراتانو پرته چې د دوی دشتون له برکته ميليارډران شول نور ملت لاهماغسې وږي او دهيواد نيم وګړي د نيستۍ تر کرښې هم ښکته ژوند کوي.

ايا کرزی پر امريکا خپل شرايط منلی شي؟

ايا له موجوده حکومت سره داتوان شته، چې پر امريکايانو د افغانستان په ګټه شرايط ومني؟ نه هېڅکله هم نه، کوم حکومت، چې له هره پلوه بل حکومت ته اړوي امنيت يې ورته هغه ساتي، ځمکه او هوا يې د هغه په واک کې وي، ټوله عادي او پراختيايي بودیجه او د حکومت او پوځ لګښتونه يې ورته هغوی ورکوي، د هغوی په نشتون کې يوه ورځ هم د خپل پايښت تصور نشي کولی، نو څنګه به پرهغوی شرايط کېږدي او څنګه به يې پرې ومني؟

افغان حکومت څوځو ځله له امريکا څخه بېلابېلې غوښتنې وکړې، د بېلګې په توګه د ملکي وګړيو ژوند ته د پام، د افغانانو دوداو دستور او مذهب ته داحترام، د افغان حکومت له لارې د مرستو لګول او نور خو يوه يې هم ونه منل شوه.

د ولسمشر او لومړي وزير په کچه چارواکي افغانستان ته راځي، خو افغان حکومت له سره نه خبروي او يا په داسې وخت کې خبر شي، چې بهرته روان وي. کله کله د ډيپلوماسۍ په خاطر دلته څوشېبې له افغان چارواکو سره کېني او کله دا اهميت هم ورنه کړي او د حکومت بې چاره ويندويان بيا وايي، چې ښه وو زمور له ولسمشر سره يې په تيليفون خبرې وکړې. امريکايانو دلته لسګونه جنايتونه وکړل خو يو يې هم چا محاکمه نه کړ او نه ورسره امريکايان دامني، چې د کمزورو او در په دره افغانانو لپاره د دوی پوځيان په تکليف کړل شي، نو که داحکومت

۳مخ

پاکستان هیڅ ګونه عملیات ...

نواحی قبیله نشین این منطقه از وجود تروریست‌ها صورت خواهد گرفت .

وی افـــزود: دولـــت و فرمانده هان ارتش پاکستان در مـــورد انجـــام عملیـــات تصمیم خواهند گرفت و ایـن عملیـات بـر علیـه کـسانی خواهد بود که اقدام به حملـه به نیروهای امنیتی می کنند.

وی همچنـین حـضورتعداد زیـاد نظامیـان را در منطقـه وزیرستان شمالی که به گفته رسانه های بین‌المللی بـرای انجـام عملیـات در منطقـه وزیرســـتان آمـــاده می شوند را رد کرد.

آصف یاسین در ادامه ضـمن غیـر مفیـد خوانـدن حمـلات هواپیماهای بدون سرنـشین در جنگ علیه تروریـزم، ایـن حملات را دارای تـاثیر منفـی بر تلاش‌های کشورش بـرای از بین بردن تروریزم خواند.

وی همچنین افزود که تبـادل اطلاعات با سازمان اطلاعـات امریکا ترک نشده امـا بعـد از عملیات "ابیت‌آبـاد " بـسیار محدود شده است.

فرمانده اردوی پشاور گفت: پایگاه نیروهـای تروریـستی در مرزهای بـین پاکستان و افغانستان واقـع است و بـا نصب سیستم‌های بیومتریک (شناسایی افراد) و نظـارت و بازرسی موثر دو کشور مـی توان از ورود نیروهای شـبه نظامی جلوگیری کرد.

وی بـا رد هرگونـه عملیـات مشترک پاکستان با نیروهای امریکا یا ناتو در مناطق قبیله نشین، تأکید کـرد کـه ارتـش پاکستان ظرفیـت و توانـایی انجـام هرگونـه عملیـاتی را مانند آنچه که در "سـوات " یـا "وزیرسـتان جنـوبی " انجام شده را دارد.

وی در پایان ضمن درخواست از افراد قبیله نشین برای زیر نظـر گـرفتن عناصـر ضـد دولتی خواستار ایفـای نقـش آنهـا در حفـظ صـلح منطقه شد.

برخی رسـانه هـا طـی هفتـهٔ جـاری گـزارش دادنـد کـه پاکستان تصمیم گرفته است عملیات نظامی علیـه سـتیزه جویان در وزیرستان شـمالی را آغاز کند.

بـر اسـاس گـزارش ایـن رسانه‌هـا، تـصمیم نهـایی و چگونگی این عملیات برعهـده فرماندهی نیروهـای مـسلح خواهد بود و نیـروی هـوایی پاکستان در این عملیات نقش عمده خواهد داشت.

این منابع نوشتند که بیش از ۳۰ هـزار سـرباز در حـال حاضر در وزیرستان شـمالی حضور دارنـد، در حـالی کـه ارتـش پاکـستان دارای ۱۴۰ هـزار سـرباز در منطقـه قبیله یی شمال غربی است.

نخستین رقیب انتخاباتی...

رومنـی گفـت: در سـال ۲۰۰۸ رأی دهنـده گـان " بـه فـرد جدیدی چانس رهبری دادنـد که برای ما زیاد شناخته شده نبود و سابقهٔ زیادی نداشت امـا قـول داد مـا را بـه جـای بهتری برساند".

وی افزود: 'اکنون در سومین سال از دوره چهار ساله اش، مـا بیـشتر از قـول، وعـده و شـعار نـشنیده ایـم؛ بـارک اوباما باعـث ناکـامی امریکـا شده است.

وی در حـال حاضـر و بـر اسـاس نظرسـنجی‌هـای صـورت گرفتـه در بـین جمهوریخواهـان از بخـت بـالایی بـرای پیـروزی در انتخابـات درون حزبـی برخوردار است. رومنـی ۶۴ ساله در جریان اعلام نامزدی خود در یـک نـوار ویـدیویی، پـیش از هـر چیـز بـه موفقیت‌هـای خـود در زمینـهٔ تجـارت اشـاره کـرد. وی بـا انتقاد جدی از عملکرد رییس جمهـور امریکـا، بـر روی ضـعف‌هـای دولـت وی در زمینه اقتصادی تاکید کرد.

این انتقادها در حالی صورت می گیرد که امریکـا هنـوز از بدترین بحران اقتصادی خود از سال ۱۹۳۰ میلادی تـاکنون رهایی نیافته است. وی از آن جهـت بـرای عامـهٔ مـردم شـناخته شـده اسـت کـه در انتخابـات درون حزبـی جمهوریخواهان درسال ۲۰۰۸ میلادی بـرای نخـستین بـار اعـلام نـامزدی کـرد امـا بـا فاصلهٔ اندک، رقابت را به جان مـک کـین واگـذار کـرد. بـه گزارش خبرگـزاری فرانـسه، میـت رومنـی در زمینـهٔ سیاسـت خـارجی نیـز از سیاسـت اوبامـا در قبـال اسرائیل انتقاد کـرده و گفتـه رییس جمهـور امریکـا نیـز مانند کشورهای اروپایی بـه دیده تردید به این رژیم نگاه می کند. وی بـا ایـن حـال از صـدور دسـتور اوبامـا بـه نیروهـای کمانـدویی امریکـا برای کشتن اسـامه بـن لادن سرکردهٔ القاعده در پاکستان استقبال کرده است.

موانع تطبیق موافقتنامهٔ ...

که من فکر مـی کـنم تعهـدات قـوی را بـا خـود دارد، افغانستان مرکز وصل منطقه اسـت کـه یـک طـرف آن پاکستان و بخـش دیگـری آن آسیای میانه قـرار دارد، ایـن توافقنامه صـفحهٔ جدیـدی را در عرصـه همکـاری هـای تجـارتی در منطقـه خواهـد گشود، من فکـر مـی کـنم بـه خـاطر انکـشاف تجـارت و تنظیم امور تجارتی در منطقه بـــه ایـــن گونـــه ســـند بسیار نیاز است". قبل از این معاملات تجارتی و ترانزیتـی میان افغانسـتان و پاکـستان به اساس قراردادی صـورت می گرفت کـه در سـال ۱۹۶۵ یعنی حدود ۴۶ سال قبل میان دو کشور بـه امـضا رسـیده بود. اما در سـال هـای اخیـر تـاجران افغـان و مقامـات حکومـت ایـن کـشور اعـلام کردنـد کـه ایـن توافقنامـه پاسـخگوی نیازمنـدی هـای امور تجارت نیـست و بـرای آوردن تغییرات تازه در ایـن قـرداد تاکیـد کردنـد. در ایـن حـال تـاجران افغـان ابـراز امیـداوری مـی کننـد کـه تفاهمـات تـازه در موافقنامـه جدید ترانزیت و تجارت میان افغانستان و پاکستان، بتواند مـشکلاتی را کـه فـرا روی تاجران افغان وجود داشت از میـان بـردارد. در عـین حـال شماری از تاجران و کارشناسان افغـان مـی گوینـد، در گذشـته مـشکلات و گـشیده گـی هـای سیاسی بیشتر از مشکلاتی کـه در موافقنامـهٔ تجـارتی و ترانزیتی وجـود داشـت باعـث بروز چالش ها در هنگام انتقـال اموال شـده و خسـاراتی را بـه تاجران وارد کرده بود.

په افغانستان کې د امریکا ...

احیاناً پر هغوی ځینې شرایط هم کېږدي، نو هېڅ داسې تـضمین نـشته، چې سـبایې هغوی منلو ته اړ باسي.

له ملګرو ملتونو ځخه د امریکا دارالانـشاء جـوړه شـوې او امریکـایـي د خپلـو ګټـو لپـاره دنانځکې په ځبر کاروي خپله هره ناروا پرېکړه پرې عملي کـوي او د امریکـا لـه خونبې او اشارې پرتـه هـېڅ هـم نـشي کـولی. ظـاهراً همداسازمان د نړیوالو ستونزو دهواري مرجع ده او مظلـوم ولـسونه بایـد دظالم له لاسه همدې سازمان ته رجوع وکړي، خو کله چې داسازمان پـه خپلـه د امریکـا ګوډاګی شي، نوپرېکړه به پر چاکېږي او چاتـه بـه شـکایت کـېږي؟ دلتـه هـېڅ داسـې سازمان او یا مرجع نشته، چې له امریکاورته شکایت وشي او شکایت ته یې غوږونیول شي.

همـــدا اوس جاپانیـــان او المانیان په خپل هېواد کې امریکـایـي نظـامي اډې نـه غواړي، خو چاته ورشي او کوم قـانون تـه رجـوع وکـړي؟ امریکایان هم ترې نه وځي؟

امریکـا د جاپـان پـه ځبر لـه ځینـو هېوادونـو ځخه د خپلـو نظامي اډو په بدل کې کرایه اخلي جاپان له نړیوالې جګړې وروسته هرکـال امریکـا تـه د دې لپاره ځلور میلیارده ډالر ورکوي، چې له چین اوشمالي کوریا ځخه يې وساتي، خـود جاپان نـوی کـول (نسل) لـه دې ټرون سره مخالف دی، په جاپـان کـې ترټولـو مقتـدر ګوندچې لـه ٦٠ کالو راهیسې هلتـه حکومـت کـوي، په دې پلمه له خلکو رایې واخستې، چې د امریکا دااډې به وباسي خـو متحـده ایـالات داډو د ایستلو په اړه د هغوی خبر نـه مني اوهغوی هم داسې کوم نړیوال قـانون نـه وینـي، چې ورته رجوع وکړي. همدا لامل دی، چې په جاپان کې نظامي اډې اوس هم شته او کله، چې دجاپـان دا حکومـت، چـې لـه خلکو سره يې د امریکایي اډو د ایستلو ژمنه کړې وه په خپله ژمنـه کـې پـاتې راغـی نـو لـه یـونیم کـال وروسـته یـې حکومت ړنګ شو.

امریکـا د نظـامي اډو پـه اړه لـه جاپان سره کړی یو ټرون هم عملي نه کړ هغوی يې له اتوم جوړولو ایسار کړل خو خپله يې هملته ورته اتوم راووړ.

نوکه امریکا له افغان حکومت سره د نظـامي اډو پـه اړه کـړې پرېکړې عملـي نـه کـړي، نـو افغانان چاته عریضه وړاندې کـړي. پـه نړۍ کـې تراوسـه داسې کوم نړیوال قانون هم نشته، چې د نظامي اډو په اړه جوړ شوی وي او له مخې يې بیاد دې ټرون فسخه وغوښتل شي. خو په افغانستان کې خو اوس دوی مطلق خپلواکه دي او آن د افغان حکومت وزیران داوبوزګ هم ورته نه ښکاري خپلو اډو ته د ننوتلو اجازه خو بیخي نه ورکوي.

دا اډې همـدا اوس هـم پـه افغانـستان کـې شـته، خـود کابل حکومت هېڅ لوړ رتبه او تیـت رتبـه مـامور تـه اجـازه نشته، چې ورننوځي.

افغان خبریال او سیاست پوه ډاکتر نبي مصداق لیکي، چې درې کاله پخـوا ډاکتـر دادفـر رنګین سپنتا، چې د بهرنیو چاروبرحاله وزیر و وغوښتل، چې په بګرام کې د امریکایانو د نظامي اډې په روغتون کې د خپلو غاښونو درملنه وکړي، خو امریکایانو هغه له دروازې بیرته راوګرځاوه او اجازه يې ورنـه کـړه. حـال داچـې يـوې عـادي افغـاني نجلـۍ تـه، چـې امریکایي پاسپورټ يې درلود، او دا قصه يې هغه ته کړې په هماغـه شـېبه د ننولـو اجـازه ورکړل شوه.

ښاغلی کرزی دومره واک نـه لـري، چـې امریکـایي سـړي خـواره د ماشـومانو لـه وژنـې ځخه منع کړي. په کونړ کې پر ماشومانو له بمبار وروسته پـه داسـې حـال، چـې د دې بمبـارد یـو دوه کلـن کـوچنی قربـاني هـم راوسـتل شـوی و منتخـب ولسمـشر!! حامـد کـرزي پـه خپـل غبرګـون کـې وویل، چې هغه له ناټو په تبره لـه امریکـا ځخه "په تواضع او عاجزی نه، په کبر"، غواړي، چې جګړه بس کړي. نـو یـو ولسمـشر، چـې د یـوه پـردي جنـرال پـه مـخ کـې دومـره عـاجزي کـوي او آن هیلـه هـم ترې په جرئت کولی نـشي، لـه هغـه ځخـه بـه ځنګـه دا تمـه وشي، چې دی به له زبرځواک ځخه اوسمهال د افغانانو ګټې وسـاتي. بلـه خـوالکـه، چـې ومویـل زمـوږ هـوایي او ځمکنی حریم ټول د امریکا په واک کـې دی. د امریکـا، چـې زړه ځه غواړي پرې کوي يې، کـه بمبـارد پـرې کـوي، کـه سوځوي يې، کـه عسکر ورته راولي، که ترې وځي، کـه بل ته يې په واک کې ورکوي که خپلې اتومي او نـوې وسلې په کې ازمویي او که خپل عسکر پـه کـې روزي. د افغانـستان بهرنـی او کـورنی سیاسـت د افغـان دولـت پـه واک کـې نـه دی، بلکـې نـاټو، پـه ځانګړې توګه امریکا او ایران يې ټاکي، ایـا افغـان حکومـت يـې پرونـدې ځه کولی شي؟

نوریبا

درې بهرنۍ سرټیرې ووژل ...

پـه حوالـه، وړمـه ورځ یـو بـل سـرټیری يـې د هېـواد پـه سـوېل کـې د سړک غـاړې مـاین پـه چاودنـه کـې وژل شوی دی.

خو د ایساف په خبرپانه کې د وژل شویو سرټیرو هویت او د پېښو کـره ځای نـه دی په ډاګه شوی.

د یادو سرټیرو په وژل کېدو سره د روان زېږدي کال لـه پیـل راهیـسې د وژل شـویو بهرنیـو سـرټیرو شـمېره ۲۲۱ تنه ته ورسېده.

دا په داسې حال کې ده، چې د رسمي شمېرو له مخې، په افغانستان کـې تېر زېږدي کال (۲۰۱۰) کې ۷۱۱ تنه او پر ۲۰۰۹ زېږدي کال ۵۲۰ بهرنـــي پوځیـــان وژل شوي دي.

ایا له افغانستان سره به د هند...

د مسایلو په اړه دی، هند ته د ده لومړنی سفر نه دی.

بلخوا د افغانستان سیاست داسې دی، چې په هېڅ ډول نه غواړي، چې له یوه هېـواد سـره د اړیکـو پـه ټینګولـو سـره پـه درریـم هبـــواد منفـــي اغېزه وکړي.)

د ازادي راډیـو د راپـور لـه مخې، داسې ویل کیږي، چـې کـه سـیمه ییـز حساسیتونه په پام کې ونه نیول شي، نو دا ډول وژنې او تروریستی بریدونـه بـه روان وي، د پاکـــستان حکومت به د تروریستي ډلو ملاتړ کوي او امنیتي حالت بـــه همـــدا ډول نـــا ارامه روان وي.

خو پاکستان حکومت تل د لـه افغانـستان سـره د تروریـزم پـر وړانـدې د جـــدي مبـــارزې خبره کړې ده.

بلخوا که ځه هم په وار وار ویـل شـوي، چـې پـه افغانـستان کـې پـوځي مرستې نـع شـي کـولای پـه دغـه هبـواد کـې د روانـې جګړې مخه ونیسي، خو بیا هم افغان دولت هڅه کوي، چې له ګاونډي هېواد هند او نـورو مرسـته کوونکـو هېوادونـو ځخـه پـوځي مرستې لاسه کړي.

دا چې دغـه پـوځي مرسـتې بـه ترکومـه حـده د افغانستان د امنیتي حالت په اړه مثبتـه اغېـزه وکـړي، راتلـونکی بـه يـې ځواب ووایي.

مایک مولن:

پاکستان باید روابط خود را با امریکا سر از نو تنظیم کند



لوی درستیز اردوی امریکا می گوید، پاکستان باید روابط خود با امریکا را ترمیم و سر از نو تنظیم کند. او می افزاید که اسلام آباد متعهد ادامه همکاری با واشنگتن شده ولی باسازی و ترمیم روابط دوکشور به وقت و زمان نیاز دارد.

آژانس خبر رسانی فرانسه می افزاید: " روابط اسلام آباد و واشنگتن در اثر کشته شدن اسامه بن لادن رهبر شبکه تروریستی القاعده توسط قوای کوماندوی امریکا در پاکستان تیره شده است".

امیر البحرمایک مولن می گوید، بعد از کشته شدن بن لادن در ماه گذشته پاکستان به خود متوجه شده است. او در واشنگتن به خبرنگاران گفت، چنین یک حالت به نظر وی طبیعی و منطقی می باشد.

لوی درستیز اردوی امریکا هشدار داد که ناگوار ترین حالت وقتی پیش خواهد آمد که امریکا از پاکستان دست بکشد و دوری اختیار کند. چون ۱۰ یا ۲۰ سال بعد باز به پاکستان مراجعه خواهد کرد و این کار خطرناک خواهد بود.

لوی درستیز اردوی امریکا در حالی این اظهارات را بیان می دارد که چند تن از اعضای کانگرس در این اواخر در بارهٔ ادامه کمک های ملیاردها دالر امریکا به پاکستان ابراز شک و تردید کردند.

آنها گفتند که اسلام آباد سیاست دو رویه را پیش گرفته، از یک طرف از امریکا کمک مالی به دست می آورد و از طرف دیگر به گروهای افراطی در خاک خود پناه داده است.

امیر البحر مایک مولین گفت که ما در یک جهانی زنده گی می کنیم که قطع تماس ها با کشوری چون پاکستان در آن امکان ندارد.

لوی درستیز امریکا اعتراف کرد که اسلام آباد کاهش قابل ملاحظه در تعداد نظامیان امریکایی که عساکر پاکستانی را در این کشور آموزش می دهند امر کرده است.

در حالی که تعداد دیگر از نظامیان امریکایی هنوز هم در پاکستان هستند، لوی درستیز امریکا گفت که نظامیان پاکستانی در باره روابط با امریکا اول باید میان خود بحث و گفتگو کنند.

لوی درستیز امریکا گفت که عملیات علیه مراکز شبکهٔ حقانی و افراطیون دیگر در وزیرستان شمالی برای پیروزی در افغانستان ضروری می باشد ولی حکومت پاکستان کدام تعهد مشخص ندارد که چنین عملیات را در آینده نزدیک انجام خواهد داد.

رابطهٔ جدید پاکستان با امریکا باید متکی به راستگویی باشد:

روزنامهٔ واشنگتن پست چاپ امریکا در شمارهٔ اخیر خود در ارتباط پی آمد سفر خانم کلنتن وزیر خارجه امریکا به پاکستان مقاله تحلیلی نوشته و در آغاز این مقاله می نویسد:

وزیر خارجهٔ امریکا نیمه راه کره زمین را طی کرد تا به پاکستان برسد و فقط چند ساعت با رهبران پاکستان ملاقات نماید که بگفتهٔ او، این سفر به قول و قرارها برای ایجاد یک رابطه جدید متکی به راستگویی و تعهد متقابل بانجامد.

خانم کلنتن گفت:"ما به یک نقطه عطف رسیدیم. اسامه بن لادن مرد، اما القاعده و تشکیلات تروریستان بحیث یک تهدید جدی برای هر دو کشور باقیست".

روزنامهٔ واشنگتن پست می افزاید، بازدید مختصر چند ساعتهٔ خانم کلنتن یک بخشی از تلاش های ادارهٔ اوباما در هفته های اخیر است تا از کشته شدن اسامه بن لادن به عوض خطر منجر شدن به بریدن و جدایی، از آن بحیث وسیلهٔ جهت برقراری روابط نزدیک تر با پاکستان استفاده نماید. اما مقام های که با خانم کلنتن همسفر بودند، گفتند، جدی بودن بحران فعلی هر دو جانب را مجبور ساخت با هم نزدیک شوند، در غیرآن، رخنهٔ عواقب احتمالی آشتی ناپذیر و نا سازگاری را قبول کنند. بناءً مذاکرات به یک سطح جدید رک و راستگویی صورت گرفت.

روزنامهٔ واشنگتن پست در اخیر این بخش مقاله به نقل از یک مقام امریکایی می نویسد، از آنجایی که ادارهٔ اوباما مبارزه علیه القاعده را ادامه می دهد، این مذاکرات راجع به عملیات مشخص به منظور بدست آوردن اهداف مشخص هر دو کشور صورت گرفت.

یک مقام دیگر امریکایی گفت: مذاکرات یک چهار چوب را برای برداشتن گام های استوارتر در آینده گذاشت.

هم چنان مجلهٔ ایکانومیست چاپ لندن هم در ارتباط رویداد های پاکستان مقاله تحلیلی نوشته و در یک بخش این مقاله می نویسد:

حمله بالای پایگاه بحری مهران در مرکز کراچی، یکی از ناراحت کننده ترین حمله تروریستی بالای نیروهای مسلح پاکستان در دو سال اخیربوده است.

به نوشتهٔ مجله، در این حمله که حتا به معیارحملات اخیر طالبان پاکستانی هم گستاخانه بود، ده محافظ کشته شدند و تروریستان یک بار دیگر نیروهای مسلح پاکستان را غیر حرفه یی و اماتور ثابت ساختند.

جاوید حسین یک جنرال متقاعد که مدت ها با نیروهای کماندویی پاکستان خدمت کرده به مجله ایکانومیست گفته است: این حمله که چند روز بعد از حملهٔ کماندوهای امریکایی بالای اسامه بن لادن صورت می گیرد، نیروهای مسلح پاکستان را کاملاً بی روحیه می سازد.

به گفتهٔ این جنرال متقاعد پاکستانی: حمله بالای بن لادن یک تحقیر بود که یک تیم امریکایی پرواز می کنند، اسامه بن لادن را می کشند، اما اردوی پاکستان هیچ خبر نمی شود. خلاصه، حالا همه از این تشویش دارند که سلاح های اتومی پاکستان چگونه مصوون خواهند بود. هر چند امنیت چندین طبقه یی وجود دارد که به تصرف در آوردن کامل بمب را ناممکن می سازد، اما حاصل یک حمله یا یورش می تواند بعضی از اجزا یا مولفه های بمب را بدست بیاورند. این نگرانی توام با نفوذ تروریستان در داخل اردوی پاکستان نگرانی ها را چندین برابر می سازد.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده دوازهم: هر دولت عضو، موظف است ترتیب اطمینان بخشی بدهد تااگر قراین معقولی برانجام عمل شکنجه درمکان و یا در قلمرو قضایی آن دولت وجود داشت، مقامات صلاحیت دار بی درنگ و بی طرفانه به آنها رسیدگی نمایند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com